مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمسور ودان ۲۰۲۳/۰۲/۱۵

# غـــزل

سپين وجود تاو و له تورو تورو زړو نه
د ابليس مقام اوچت و پرېښتو نه

سل طوافه بې فايدې کوې لګيا يې "۱"
نهر موړ کړه، چې بهتر ده، طوافو نه "۲"

ګوټ به و نه کړم، حرام په ما زمزم شه
چې څوريږي مې ګاونډ له پرهرو نه

څه به بود شي د دې ښار له ورانولو؟
يا د خوار انسان په تور ټوپک ويشتو نه

ګرمه شپه ده چې روڼ خال لري په غېږ کې
ګناه نشته په سپوږمۍ مينېدو نه؟

د خدای لټه کې شيطان، زاهد خطاء کړ
لاس يې وخوته، د زهدو له کيسو نه

دوی د دين په دعوه ووتل له دينه!
ما خدای وپېژاند د سور کافر سلګو نه

زه په توره شپه په خپل منزل پسې شوم
زما لارې خطاء مه کړې منزلو نه

۱۳نومبر ۲۰۲۱/ جلالکوټ

**لمنليک:**

۱ : د جومات له امام مې اوريدلي و، چې ابوجهل له ۵۰ زيات حجونه او د بيت الله شريف ګڼ طوافونه کړي وو، خو ټول بې ګټې.

۲ : د دری ژبې د مشهور بيت (دل به دست آور که حج اکبر است ـ از هزاران کعبه يك دل بهتر است) تر اثر لاندې.

سمسور ودان



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولئ